د انګليسي ژبې د زده کونکو زده کړه (ELE): ځيني ګامونه چې تاسو يې اخستلی شئ

که ماشوم مو د انګليسي ژبې د زده کونکو زده کړې (ELE) لپاره وړ وي، د ښوونځي ناحيه به هغه برنامه وړاندیز کړي چې د دوی په باور به ستاسو ماشوم سره مرسته وکړي. د ميساچوسټس قوانين او مقررات د مختلفو انتخابونو کولو په اړه ستاسو حق خوندي ساتي. د خپل زده کونکي بريالیتوب پرمخ وړلو لپاره له خپل ښوونځي سره شريک شئ!

دا هغه څه دي چې تاسو يې کولی شئ!


تاسو کولی شئ د ناحيې لخوا وړاندیز شوې د انګليسي ژبې د زده کونکو د زده کړې (ELE) برنامه کې د خپل ماشوم د شاملولو غوښتنه وسپارئ.



تاسو کولی شئ په ناحيه کې وړاندیز شوو د انګليسي ژبې د زده کونکو د زده کړې (ELE) برنامو په اړه د نورو معلوماتو لپاره په شته کنفرانسونو يا غونډو کې ګډون وکړئ.



تاسو ښايي وړاندیز شوې برنامې څخه هم ليدنه کړئ ترڅو وګورئ چې ايا دا مو ماشوم لپاره مناسبه برنامه ده. تاسو دا هم کولی شئ چې د انګليسي ژبې د زده کونکو د زده کړې (ELE) يوې مختلفې يا نوې برنامې غوښتنه وکړئ.



تاسو کولی شئ د انګليسي ژبې د زده کونکو د زده کړې (ELE) برنامه کې د خپل ماشوم نه شاملول غوره کړئ. تاسو دا هم کولی شئ چې د خپل ماشوم لخوا د برنامې پيل کولو وروسته دوی له برنامې څخه وباسئ.



د خپلې ناحيې د انګليسي زده کونکي والدينو مشورتي شورا (ELPAC) څخه، چې د کورنيو يوه ډله ده چې د انګليسي ژبې د زده کونکو زده کړې(ELE) په اړه خبرو کولو لپاره سره راټوليږي، نور معلومات ترلاسه کړئ.

دا سرچينه د ميساچوسټس د لومړنۍ او ثانوي زده کړې څانګې لپاره د ميساچوسټس ايالت په کچه د کورنۍ ښکيلتيا مرکز لخوا، چې د څانګړو اړتياو لرونکو ماشومانو لپاره د فدراسيون برنامه ده، رامنځته شوې.

که پوښتنې پوښتنې لرئ؟ له خپل ښوونځي سره اړيکه ونيسئ: